


# پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیارپر هېوادني او جهاني کچ د پښتو ژبې او پښتني فر هنګ د سرڅنې او سيالۍ په هڅه

مرکه وال : انجنير عبدالقادر مسعود

(دويمه برخه)

مسعود: ستاسو له انده د اروپايي، هندي او پښتو موسيقۍ اساسي ځانګړني کومې دي او څه توپير سره لري او دا راته ووایاست، چې موسيقي او شعر سره په خپل منځ کې څه تړاو لري؟

زيار: زه د موسيقۍ نه هنر منديم او نه يې ښانګپوه، خو د غرېوهنې او بيا له شعري سره تړاو يې راته د پښتو بدلمېچ (ميز ان الشعر) (rhythem)تول و تال ياوزن دڅېړنې او اوډنې په ترڅ کې ښه ترا جوت شو.

د پښتو موسيقۍ، تنګ ټکور يا سندرا او سندرو وتلي څېرو، لکه د لرې پښتونخوا هغه چې په سر سر کې يې اروابناد رفيق شينواری راځي او دبرې دي چې په سر سر کې يې اروابناد محمددين زاخيل او نن سبا استاد عبدالرحمان رحماني او لطيف جان بابې ټيکاو لري، دا راجوته کړې ده چې ښايسته ډېرپښتني وګړني آهنګونه( غاړې، ناري، بابولالې، شين خالی، کاکړی...) پر هندي راګونو اوښتي دي. په بله وينا، يو لړ هندي راګونه او غړونه چې افغاني او بيا پښتني هنرمندان غړوي او کاروي، آره او ريښه يې بيرته پښتونخواته راګرځي!

ډيره په زړه پورې دا چې په يوه لنډۍ کې د (ارم راګ) يادونه شوې ده :

راګ د ارم راته ږغېږي - چې لیونی د ښاپیری خندا کوینه

په هره توګه، له دې هم نټه نه شي کېدای چې همدا هندي تربوران ول چې په ټوله مانا يې تر بل هر ټبره له آريايي پيره تر اوسه زموږ د بېلابېلو ګډو فرهنګي پاتوړو(ميراثونو) ساتندويي او استازندويي ښه تراکړې ده. کټ مټ، لکه څنګه چې له اروپايي تربورانو سره مو په ګډ ژب- توکميز ((هندواروپايي)) نامونه کې استازي کوي!

نو پر همدې دک و دليل د موسيقی په تړاو هم د دې ځواب په کار دی چې هندي- اروپايي، او لا ويلای شو، د ختيزې- لويديزې موسيقی ترمنځ توپير په څه کې نغښتی دی، او غبرګون به يې هم داوي چې تر دغه منځ د هنري جوهر له پلوه کوم ستر توپير نشته، خو د رغښتي تخنيک او فورم له پلوه په دې توپير مومي چې زموږ داپر اتوسُرو ((سا-را-ګا-ما-پَ-دَ- ني-سا)) ټيکاو لري او لويديز دا پر شپږو. نور نو د دواړيو ساز الې هم له لويه سره پر څلورو ډولو وېشنه مومي: پرده يي(هارمونيه يا باجه، ارغنون، اکورديون، پيانو...)، تاري(رباب، ستار، سنتور، دوتار، تنبور، ترنګو ياغژکه، سرينده، سرود، ويلن، ګيتار...)، وهنيز ياضربي(ډُول، ډومبکی، چمبه يا داريه، نغاره، دوکړه يا تبله، زېربغلي، منګی، ډرم، جاز...) او بادي(دروی، شپيلی، سورنی يا سُرنا، کرنا، ترومپېت، ساکسفون، بينباجه، کلاريونېت، کلاريون...). ښايي اړوند هنرمندان او په ټبره ځانګپوهان تر دغه منځ نور توپيرونه او بېلابېلي ځانګړني له ګرد ټول و توک(جزئياتو) سره وړاندې کړي، زما افاقي معلومات يا جنرل نالج همدومره دی. هرګوره، مينه والوته به زمادا سترګو ليدلي او غوږو اورېدلي هم په زړه پورې وي چې د تېرې پېړی په شپېتمو کلو کې لکه دا نن سبا، دغلته د نا انساني پانګوالي(کپيټالېستي)، په بله وينا، پانګواکي(اېمپرياليستي) ناخوالو پر وړاندې يو سراسري سرغړاوی او پاڅون راپيل شوی وو او له کارګرو او کارمندانو رانيولې تر زده کړيالانو، استادانو، ليکوالو، شاعرانو، رسنوالو، پوهانو او هنرمندانو پورې به له سرو بيرغونو او شعارونو سره هره ورځ لاريونونه کول او په هغه لړکې يې په زړو توکيزو او مانيزو فرهنګي آرونو او لارو رَودواو بياموسيقی پسې راواخېسته. پاپ(وګړنی) موزيک چې وار له مخه يې پيلامه رانښتي وه، تر بل هر دو ديز(کلاسيک) هغه ډېر منښت او ګرانښت ومومند چې هيپيان او بيټلان يکې تر بلې هرې ډلې ټپلې ښه ترا وځلېدل. د الهام سرچينه يې هم له آره انګازوره ختيزه موسيقي وه. خوځښتونه او لوړ غږونه يې ورسره له افريقايانو راخپل کړي ول او نور ټول وتال يې له هندي هغه. نور نو د يوهان شتراوس، موسارت، سبستيان بخ سيمفونيو ارامو نغمو او کنسرتونه دځوانان لا څه چې د پوخمنګو هم نه خوښېدل او بيا هغسې لوکس دريشي کړي، درانه او غلي پلي نه کښېناستل. له يه سره به يې له سندرغاړو سره همممهاله يوراز ټوپونه وهل او هماغسې يي اوازنه هم ور سره انګازه کول. بيايې ((راګ اندرول)) يا په پارسي نومونه ((رقص بجنبان و بچرخان)) ځبل

ځایناستی شوچې سندرغاړي له اواز سره سره چورلکونه هم خوري. ما لږو ډېر د اړوند پوهنتون پر یونیم بنډار او تلویزوني ننداره بسنه کوله، خوچې په خپلو گناهگا رو سترگو مي ولیدل، مستي او نشه نجوني خپل سلتراجونه ورغوځاروي، نو پر خپل ایمان وډارشوم او له هغې هم توبه گار شوم.

په ایران کې پاپ موزیک گوگوش راپیل کړی وو او په افغانستان کې احمد ظاهر او چې ترخو د دغه بل ډول وار رارسېده، په دواړو هېوادو کې بنسټپالي واکمنه شوې وه !

راوروسته په لویدیځ کې د هندي موزیک په تېره ستار زده کړه هم دود شوه.(( راوي شنکر)) به یې اروپا او امریکاته راباله او ستار ته به یې د دوکړو له تال سره ساتونه ساتونه کښېناستل. زده کړې ته یې ان هندستان ته هم پسې ور تلل. په پای کې افغاني رباب ته هم وار راورسېد او استاد محمد عمر د اتیا یمې په نیمایې کې امریکاته د ښوونکي په تو گه وغوښتل شو!

مسعود:تاسې هغه شعرونه، چې سیاسي، ایدیولوژیکي، ارماني، متعهد او یا ناژمن اړخونه ولري څه ډول څېړئ؟

زیار: د ناب ونږه شعروادب یا ((هنر د هنر یا ادب د ادب او بیا شعر د شعر لپاره)) الماني فېلسوف مانویل (subjectivist)لیدتوگه چې له ذهنیوال یا ذهني گرا کانت (۱۷۲۴-۱۸۰۴) څخه سرچینه اخېستې، په کړن کې بې سروبوله زباده شوې ده. په دې مانا چې تر اوسه هېڅ یوه بشپېړه( مطلقه) نږه او سوچه هنري، ادبي او بیا شعري پنځونه نه ده لیدل شوې. چې سل په سل کې دې یې یوازې ((خوند)) رانغښتی وي او د((ژوند)) هېڅ کوم څرک ترې نه وي لگېدلی. ځکه پنځگر یې په چوپه خوله طبیعي چاپېریال کې نه، بلکې په ټولنه کې اوسي او ټولنیز اندوژوند ورباندې لږ و ډېر اغېز ښندي او په دغه لړ کې اندپوهه (ایدیالوژي) او سیاست هم بې نقش و اغېزه نه دی. هغه پنځگراو په ځانگړې ډول شاعر چې د سوچه او بې موخې پیغامه شعر داوه کوي، د چا خبره له همدې داوې یې د یوې موخې او پیغام ورم تورم راځي.

شعر تر هرڅه له مخه په یوه کره کېښکلي ژبنی څولی کې د اند-و- واند(اندیشه و خیال) او بیانگېر و ولولي(احساس او عاطفي) یوه گډه زېږنده ده او دغه ذهني ښکارندې(پدیدې) یومخیزې نانگېره(نامحسوسي و مجردې) نه شي رامنځته کېدای، بلکې دا هم پر خپل وار له نگېرور مادي پنځیز(طبیعي) او ټولنیز چاپېریاله تومنه اخلي. له همدې کبله داخبره پرځای ده چې د شعر په نغښته او رغښته کې د طبیعي او انساني چاپېریال لیدنه کتنه (مشاهده) ستر نقش و اغیز لري.

زه پخپله هم د شعر په پنځونه او هم ارزونه کې دوې غبرگې تولی(مقولې) هڅکله له پامه نه غورځوم چې یوه یې((ژب- ښکلاییزه)) ده او بله ((ژب- اندیزه))، چې د((هنري ارمان)) او(( ټولنیز ارمان)) ښکارندویي کوي. د ریالېزم او بیا انتقادي او ټولنوال ریالېزم او هومایېزم لاره لېله هم همداده له دې پرته هره پنځونه یوه هسې وییلوبه، لفاظي یا فورمالېزم بلل کېږي او له انساني – ټولنیز ارمانه یوه توره تېښته. له دې نه هم څوک نټه نه شي کولای چې ربښتیني او ژمن هنر د پوهې او تخنیک تر څنگ د انسان په گټه د پنځ (طبیعت) په اېلونه او مهارونه کې پوره ونډه اخېستې او د تمدن تر اوسني بشپړتیایي پړاوه یې رارسولی دی. زه نه وایم، چې شعر دې د نورو هنرونو او بیا ادبي ځېلونو هومره د پنځیزو او ټولنیزو ناخوالو په ځلونه کې برخه واخلي، بلکې له داسې یوه پیغامه کار واخلي چې له ډېر هنري او ښکلاییز راکښونه یې څوک وار له واره و نه نګېرلای شي. داهم اړینه نه ده چې د هر لوستي او نالوستي سر دې پرې یوراز خلاص شي. همدا به بس وي، هماغه سیالان او بیا هغه پرې پوه شي چې د ناخوالو د پرې گوته ورته نیول په کاردي. او تر هرڅه له مخه پخپله شاعر د د واړو ارمانونو له پیوستون او خږوبتیا خوند واخلي. نو زه همداسې یو ویناوال ژمن او استازګر بولم چې یوخوا دخپلځاني او مینه والو د ښکلاییز څوب (ذوق) خږوبوي او روزي او بل خوا د غمېدلو او غمولو پر وړاندې خپله ژمندویي او استازګري (تعهد او رسالت) راسمبالوي. په ترڅ کې بیا داچې، هم یې د خپلې ژبنۍ ټولنې پر کچ د پرمختیا او لوړتیا او هم یې د نړیوالې سیالۍ لپاره خپله تاریخي پاژه ښه ترا پرځای کوي.

د ایران د نومیالي انقلابي شاعر( احمدشاملو)تردې هم وړاندې ځي او وایي : ((... من به این حقیقت معتقدم که شعر، برداشت های زندگی نیست، بلکه خود زندگی ست. ))

مسعود: ارسطو وایي : (دشاعر وظیفه د اسطورې جوړول دي). ستاسې پر اند شعر له اسطورې سره څه اړیکې لرې او پر پېښتو شعر یې اغېز څنګه ارزوئ او همداراز د هېواد او نړۍ پر کچ په اوسنیوکړکېچنو حالاتو کې مو د شاعرانو له خوا د اسطورو د پنځولو(ایجادولو) په اړه لید څه دی؟

زیار: ارستو د خپل استاد اپلاتون د شعرپوهنې یاپویتیکه (بوطیقه) په توپیرچې شعر یې د پنځ(طبیعت هسې تشې پیښنې گڼلې، لکه په نورو فلسفي او پوهنیزو لیدتوگو کې د هنر او بیا شعر په تړاو هم له اسمانه ځمکې ته راکوزشوی. نو دا خبره یې له اوسني جاج سره ښه تراړخ لګولای شي. له اسطورو نه یې موخه همدغه نن سبا دود خیالي انځورونه، سېمبولونه او نور ټول ښکلاییز(استېتیکی) پسولونه او پردازونه دي چې په ټوله مانا له هسې هو بهو پېښنو او ساده سیده گوزارش سره د شعر بریدلیکه راجوتولای شي.

تر هرڅه له مخه وړنده بربېني چې داسطورې دپېژندنې په اړه یو څه ووایم.

اسطوره یوه عربي نومونه ده چې ډېرګړی یې اساطیر راځي. انګرېزي انډول یې

څخه آره اخلي او مانا یې (ویی، خبره) ده. (Mathos) یوناني له(mith) میتڅ

(Religion Encyclopedia) دیني پوهنغونډ

لیکي چې یوناني لوګوس

په استدلالي بڼکالوه هم په همدې مانادی، په دې توپیر چې لوګوس (logos)

(بحث) کې کارول کېږي او مېتوس هغه ویی دی چې په کیسه او روایت کې راځي. په دې توګه په کیسه او افسانه کې هر کارېدلی یا کارېدونکی ویی اسطوره بللای شواو په بڼکالوه (بحث) کې ټول کارېدونکي وییونه لوګوس نومولای شو. لوګوس راوروسته د (پوهنې) په جاج په یوناني کې د – لوګي او په لاتین کې د – لوجي په بڼه کارول شوی او عربي د ((لغت)) په بڼه د (ژبې) او (کلمې) په جاج و مانا راخپل کړی دی.

((د اسطورې د بڼه ترا پېژندنې لپاره : شاه سعود، د پوهاند زیار په شعرکې مېت یا اسطوره، لېمه (۱۹۹۸) ۱۰ ګڼه. ))

هنر او بیا شعر له مېتولوجی(اساطیر پوهنې) سره نه شلېدونکی یا ((دیالکتیکي تړاو)) دا رازبادوي چې انسان د ربښتینې یا واقعي نړۍ تر څنګه له ((خیالي)) هغې سره هم اړ او تړاو لري. هغه نار ژېدلي ارمانونه او نا خړوبېدلې هیلې او غوښتنې یې چې له وړکینې راهیسې ناځانخبرې (تحت الشعوري) نړۍ ته چار ناچار ورتمبول شوې، زېرمه شوې او په ورځنې ژوند کې تازه پرتازه هم بڼه اوبد وریېښېږي ډېر څه اوري ګوري او ورته خوښېږي، ارمانېږي او پخسېږي، بې له دې چې پوه شي، دېته یې اړباسي، د همداسې یوه خوالګر په لټه کې شي یا د چا خبره یوې ((خیالي)) نړۍ ته پنا یوسي. نو که یو مخیز یې ورخړوب نه شي کړای، د یوه دردارامي (مُسکن) درمل هومره خو یې ور سپکولای او اراموﻻی شي؛ استېتیکي ( بڼکلاییز) ذوق خړوبېدنه، یا په ساده ژبه، خوند اخېستنه که غریزه یې هم وي، له هماغې ناځانخبرې ((زېرمې)) او ورځنیو تودوسړو سره ټینګ و ترینګ تړاو لري. که څوک دا وواییي چې په دې ډول شاعر یو دننپال(درونګرا ) دی او د چاخبره د خپل زړه بړاس باسي، خپل ځانګړي ګرومونه یا عقدې(کمپلکسونه) اراموي او ورسره ورسره خپل بڼکلاییز څوب و ذوق خړوبوي. پر دې ناګار یا ناخبر چې په یو ډول نه، په یو ډول یې دغه هرڅه له نورو سره ګډ او شریک دي. که داسې نه وای، دا دومره مینه وال به یې له کومه کول؟

د فروید او ملګرو، لکه اتورانک پر اند اسطورې او وګړنی یا فولکلوري کیسې، افسانې اوروایتونه له خوب (رؤیا) سره ورتوالی لري. دوی وايي، هماغسې چې خوب د تمبېدلو

او شړل شویو هیلو، غوښتنو او یادونو(خاطرو) د ټولګې د څلورګونو دویونو(قواعدو) تر اغېزلاندې رامنځته کېږي، د ولسونو افسانې او اسطورې هم په رښتینه هغه خوبونه دي چې را پنځوي يې.

د فرویدپېستانو د شننې او څېړنې( تجزیې او تدقیق) له لارې د اړوندو توکمونو، تېرونو او ولسونو رواني اکر بکر جوتېدای شي او دغه کار د تمدن د تاریخ او ډېرو ټولنیزو اکرونو (حالاتو) دآرې او ریښې په بیاموندنه کې ستر ارزښت لري(تعبیرخواب ۱۶-۱۵مخ ).

داهم نومېرل شوې چې خوب (رؤیا) هرڅه په تېرژوندو ژواک کې لیدلي، ارمانلي او بیا زېرمه شوي هو بهو نه راځلوي، بلکې د شعر غوندې پرداز ورکوي او پر سپمبولونو يې اړوي، د بېلګې په توګه اوبه، باران، واوره ، ږلۍ، توپان، مار، لړم، څناور، اوښ، غر، پېچومی. ..د ربړو، ستونزو یا خطرونو سپمبولونه ګڼل کېږي او ځینې نور بیا د هیلو او هوساییو او داسې نور، په دې توګه خوب تر هر هنره له شعر سره زیاته همرنګي او اړاو تړاو لري، په بله وینا، خوب لیدل یو راز((شعرویل))دي. له دې دا پایله هم اخېستای شو چې هر انسان په خوب، په بله وینا، ناځانخبرۍ (تحت الشعور) کې شاعر دی، خو یوازې هغه څوک چې په ځانخبري ( شعوري) ډول هغه هرڅه ته ژبه ورکولای شي، شاعر بلل کېږي!

د دې ټکي هېرول هم په کار نه دي چې اسطوره همهاله یو سپمبول هم دی، مانا دا چې دغلته بیاهم له سپمبول، په بله وینا، له اسطوره يي سپمبول

(mythological symbol)

سره مخ کېږو؛ په همدومره توپیر چې پر سپمبول باندې پوهېدل اسانه دي او دا کار دکتنې (مشاهدې) او لوستنې اورېدنې له لارې کېدون موندلای شي، خو اسطوره يي سپمبول د پوهېدنې لپاره څه غور و ژورتیا اړینه برېښي. د ساري په توګه بې له دې څوک پر ((اهریمن)) نه پوهېږي چې څه راسپمبولوي او موخه مانا يې څه ده!

که له بل ګوټپېره وکتل شي، هره اسطوره او بیا اسطوره يي شعر و کیسه له سپمبولونو سره کار لري، په بله وینا، د اسطورې ژبه له آره سپمبولیکه ده. نو کله چې د اسطوره يي سپمبول نومونه کاروو، موخه مو په ټوله کې د هماغې ټاکلې اسطورې یو بیاځلي (مکرر) سپمبولایزېشن دی.

په هره توګه، اسطوره که یو خواد شعر په ژبنۍ سپما او کېښکلتیا کې تر سپمبول هم ډېره ونډه اخلي، بلخوایې د ننني هنري جولې په رنګینۍ کې لا په زړه پورې ونډه پرځای

کولای شي. ځکه زیاتره یوه درسته کیسه او شأنِ نزول رانغاړي. هرګوره، ((مېتولوجي)) نومونه (اصطلاح) مو هم چې تر نورو هنرونو يې په

شعرکې د کار اخېستنې زيات تېنګار کېږي، وار له مخه سترګوته

نېغ دروي. (Myth)

که نه د دې توک په ګډون ګرده هنري رغنده توکونه (متشکله اجزا)يا اوزار،

لکه څنګه چې پرله پسې مو راغبرګ کړل، يو مخيز د ((خيال)) زېږنده بلل کېږي او يو هم بهرنۍ رښتينې (واقعي) هستي نه لري او په دې ډول تر ((مېتولوجۍ)) غونډ نوم لاندې راځي. په دې ډول پښتو شاعران هم د نورو ښکلاييزو پسولونو په ترڅ کې د اسطورو کارونه هم له پامه و نه غورځوي، نه جوړونه. په دې مانا چې اسطورې وار له مخه زموږ پښتنې- افغاني، آريايي- آرياني، سامي_ اسلامي او پر نړيوال کچ يوناني- اروپايي... تاريخ او فرهنګ کې شتون لري. له انځور، سېمبول... سره يې توپير په همدې کې دی چې دغه د شاعر د خپل اندو واند(فکروخيال) زېږنده او نوښت بلل کېږي (د لا ځرګنداوي لپاره: پښتو بدلمېچ اړوند ځېرکی ).

هرګوره، چې له نړيوال دود سره سم زموږ شاعران او کيسه ليکوال... رښتيني(نه افسانه يي) تولمنلي ملي اتلان د سېمبولونو او ورسره ورسره د اسطورو په نامه نومولای او کارولای شي، لکه واخلې، د درو ګونو(افغان-انګريز) جنګونو او ورته ملي ازادیپال اتلان او نورې تاريخي ستې. د ستر خوشال خبره، (مېړني دي. .. چې يادېږي په بدلو په سندرو)، له بدلو او سندرو يې موخه هم وګړنۍ هغه دي، لکه پخپله خوشال په دې لنډۍ کې:

نن پر خيبر د زلمو جنګ دی – خوشاله پاڅه چې مغول راغلي دينه؛

غازي اکبر خان پکې يې داسې ستايلۍ دی :

د توريالي اکبر له برمه ــ ځوانان د ننګ تورې وهي سرورکوينه

د اکبر خان غازي په توره ــ وطن رڼاشو دښمنان به ماتې خورينه

که جهان مري اکبر دې نه مري ــ يو خو ښه ځوان دی بل يې کړي جهادونه

د ميوند اتل يې هم په دې ډول :

پرايوبخان مې سلام وايه – دادی جانان مې کومکي در ولېږنه

د هندستان پېرنګی ژاړي ــ که ژير ايوب پر دنيا وي کونډې به شونه. ..

او پرپاچاخان داسې ناره شوې ده:

که له زلمونه پوره نه شوه ـــ خان باچاخانه جینکۍ به دې ګټینه!

د ګاردین نومور خبریال او لیکوال ((جنتان ستیل)) بیا د افغانستان په تړاو په خپله یو تازه څېړنه او شننه کې هغه ګردې تش په نامه اوسنۍ ((جهادي اسطورې)) درغلي ارزولې دي چې تر اوسه انګروزل کېږي او ډنډوره کېږي!

بنايي، زه د نوي شعر ړومبنی استازی اوسم چې هم مې په زړو دوديزو اسطوروکي د ادلون بدلون هڅه کړې او هم مې د دغو نورو په کارونه او دودونه کې تر ټولو زیاته ونډه پرځای کړې ده. په دغه تړاو د شاه سعود له خوا په یاده شوې لیکنه او بدلمېچ کې له راغلي اړوندو بېلګو او هم له نويو کارول شويو هغو څخه يو کوشنی غورچاڼ را اخلم. ړومبی د پخوانیو نورستانیانو د خدايګوټو (ارباب الانواعو) نومونو چې په ((الينا)) نومي ازاد شعر کې مې رانغښتې دي :

یوش (د شر خدايګوټی)؛ ترسکن (د انګورو او نورو شرابو- سته، خدايګوټی)؛

یمرا (پنځګر)، مرا (تر ګردو لوی پنځګر چې تر اوسه پرې لوړي یاسوګند خوري)؛

ګېش (د ښېګنې خدايګوټی)؛

andrاندر

(د کرکيلې او ښېرازۍ خدايګوټی). .. (سوزونه او سازونه (۱۳۰ -۱۳۵).

د ځوان نوښتګر شاعر غفور لېوال د درېګونو اسطوره يي منظومو په لړ کې چې ماد((حماسو)) په نامه ورارزولي، ((لام او ايلينو)) هغې څه ناڅه ورته الينايي اسطورې را نغښتې دي.

زه له خپلو نورو اسطوره يي شعرو څخه پر دې لاندې قافيوالو بېلګو بسنه کوم :

ـــ نوړي دايوا داهورا د مزدک ځلي زما

داواز سيوري اهريمن په غشو ولي زما

ما هر طاغوت ته دايمان په مټ ورکړې ماته

دي يې ډالونه په توبرو د برم سکڼلي زما

ما د بهمن په پاک قلم واړه له سره وکښل

چې دازل قلم په برخه ول ليکلي زما

ــ... روان تخت د سليمان به څه ارمانم

ــ. ..لکه لمرکړم د سبا پر لورې لاره

د قاف غرونه مې ېرمخ هم تړاي نه شي

جابلقا نه، جابلسا پر لورى لاره

ما امرلې يې د مينې په تړون کې ،

له دايوانه ، د مزدا پر لورې لاره!

ــ... خدايان د ځمکې په دا دومره مرگ وژوبلو ناگار

چې د دې بورې نيمه خواپه زړه کې څه تېرېږي

چې اهريمن د سپين تومان پر مېنه اور بلوي

څوک څه خبر، د اهورا په زړه کې څه تېرېږي

ــ غږ مې نه رسي تر عرشه ، د اسما ن لا رې اوږدې شوې

دېوتا يان را ته را سپلمه، د يزدان لارې اوږدې شوې. ..

ــ. ..د لمرخرک له نا رنجباغه، پر وړانګنو وزرونو

هسک د عرش مزدک پرلورې، برا ق وزمه والوتلې

که ته ولاړې تر معراجه، د نا پاى ښا يست ترستونځه

ما سره کيسې د مينې ، دې لا هسې خوبولې. ..

ــ... څه د وختو د هوسو زليخا

ښکلى يوسف کړ په تزوير زولانه!

ولى پرځاى د بېگناه«حسنک«

نه شي زورواك امير، وزيرزولانه؟

لامو په غچ د هسك د خداى د د ښنو

به ګورکې کړي، منکر نکير زولانه!

ــ... د منصورۍ مينې زباد نه دی، څه دی؟

داچې د دار پر لورې لار لنډ وو

چې بې اجله مرګ ته ماتې ورکړو

موږ د (( لزار)) پر لورې لار لنډوو

د اور تونو د خوګلنونو په ياد

د « نووهار» پر لورې لار لنډ وو...

ــ... په لټون د پرومېتوس سپېڅلي اور کې

واوښتم پرد ا څه تورو مړو دوهيو

ــ... د زردشت له دشتو لېږدي، جنازې د سرو رېديو

آرياناوېجه نيولې، له يوې مخې اغزيانو

د سوما له سوي کښته، لاس پر سر« سکه» لوګري

تورې خاورې پر خوله پورې، د بخديو وريځانو

دا بيا کوم سرغړاند سيند، ياغي ښامارته ډالی کېږي،

سرې ډولی د ښايست پيغلو، را لښلې چې ورا بانړو؟

مسعود: تاسو د ادبي نقد او کره کتنې او د ادبي او فرهنګي مرکزونود جوړولوپه اړه په هېواد کې د ننه او بهر، چې د نورو ادبي ځانګوالو تر څنګ واکيالي (باصلاحيته) ځانګپوه کره کتونکي غځېتوب و لری، څه ليد لری؟

زيار: ولې نه واياست، داسې يو مرکز رامنځته شي چې دا هرڅه په خپله غېږه کې راونغاړي! په هر ډول، نن سبا د تش په نامه سرکاري بنستيونو او بيا((د افغانستان د پوهنو اکادمی)) د يو نيم تش په نامه ((د ژبو او ادب انستيتوت)) د يوه داسې ازاد بلونج(بديل) په بله وينا، ((پښتو اکادېمی)) رامنځته کول خورا اړين بريښي چې پياوړي ځانګپوهان پکې غځېتوب ولري او د پښتو ژبې، ادب او فرهنګ لپاره يو رښتينی او پرلغښتی کار وکړای شي. سم له لاسه کېدای شي، د نړيجال(( انټرنېټ) په مټ دغه چاره

راپيل شي، کړنلار و تګلار ورته جوړ شي. ان تردې چې پرانستوني غونډه يې هم په همدې وسيله کېدون موندلای شي .

ما پخپله درې کاله وړاندې په هېواد کې دننه د((پښتو فرهنګيستان)) په نامه د يوه داسې اکاډېمۍ پرانستوني غونډه جوړه کړې وه او له هغه راهيسې مې په همدې موخه او نامه په خپل کلي(حصارک-مزينه- ننګرهار) کې پر نوي ودان کړي کور ليکدړه(لوحه) ځړولې ده. خو د نوموړې غونډې برخوال يې په عدليه وزارت کې پر راجسترولو ټينګار کوي. که نه هسې خو ډاډه دي چې اوسنی((اېمپرياليستي- جهادي)) دولت بې له هغې هم له ډېرې ناغېړۍ څخه، له څوکلو راهيسې د نورو سرکاري بنسټونو غوندې د پوهې او فرهنګ دا هم ځاني(شخصي) کولو لپاره زرغون څراغ بل پرېښی، خو ټول زور پر رسنيزو او بيا تلويزونونو اچول شوی او زموږ داهڅه ګړسره نوې ده. ما دلته په انګليستان کې هم له نورو څانګپوهو ملګرو سره پټيلی چې اروپايي او امريکايي ختيځپوهان هم له ځان سره ملګري کړو، که څه هم زياتره بوډاګان شوي، خو لېوالتيا يې را ته پوره څرګنده شوې او له واک او اغېزه يې پوره ګټه تر لاسه کولای شو.

مسعود: يو شمېرليکوال او څېړنوال وايي، چې پښتويوه زړه آريايي ژبه ده، اود آريايي ژبو يوه خپلواکه څانګه ده. تاسو د يوه ژبپوهاند او بياتاريخي- پرتليزې ژبپوهنې څانګپوه په توګه دپښتو ژبې لرغونتوب د تاريخي او ادبي اسنادو له مخې څه ډول څېړئ؟

زيار: د لرغونپالنې(قدامت پسندی) دا ليد توګه د دوديزو پوهانو پاتوړې(ميراث دی) چې آره او ريښه يې لرغوني پېر ته رسي. يهودو دا باتې وهلې چې عبري(عبراني) ډېره زړه ژبه ده او ټولې ژبې ترې رازېږېدلې او بيا يونانيانو له خپلې ژبې پرته بله ژبه نه باوروله او له همدې لامله يې نور ګرد نړيوال بربروس(بلبلان) بلل. راوروسته پکې پوهان، فيلسوفان او په تېره د تاريخ پلار(هېرودت) رامنځته شو او د ګردې نړۍ ژب- توکميزې ليکنې څېړنې يې هم مخې ته ور کېښوې، خوچې د سکندر په مشرۍ يې نورو هېوادو اوبيا دېخواته خپلې سوبې راوغځولې او له يونانۍ سره د نورو ژبو ژ ورتوالي ته ځيرشول، نو دوی هم يهودي ورته ساتې باتې راواخېستې. عربوټول نا عرب لا ګړسره ګونګ (عجم) وبلل؛ ډېری روسان له پېړيو راهيسې تر اوسه جرمنيان په ورته نامه((نيميسکي)) يادوي!

په پښتنو کې لږ و ډېر يو دبل پر ګړدود هم ملنډې وهي او په راز راز نومونو يې نوموي، لکه واخلې پېښوريان او نور شاوخوا پښتانه بنوڅيان نيمژبي((شيتک)) بولي او ستر خوشال چې له شپړو پښتو(نسلو) راهيسې يې کورنۍ په اکوړه کې اوسېدلې او د خپل غرني کرلانې ګړدود پر ځای يې پېښورۍ او بيا ادبي پښتو را خپله کړې وه، په خپله نوموره بولـله کې هم همداسې ياد کړي دي :

: له هرچاسره چې کښېنې، همهغه شي_ اوس مې نيمه ژبه خوښه شوه شيتک يم

زموږ دوی ته هم چې پر(۱۹۳۶)ز. کال د افغانستان د يوازېنۍ ملي- رسمي ژبې په توګه دپښتو روزنې پالنې پازه وسپارل شوه او په ترڅ کې له دې هم خبر شول چې ختيځپوهان پر پښتو او پښتنو ليکنې څېړنې کړې دي، نو دهغوی له منځه يې د نولسمې پېړۍ د يونيم انګرېز پښتو پوه دا خبره واره داره وګڼله چې داژبه د دواړو(هندي او ايراني) څانګو ترمنځ ځانته جلا ((دربيمه)) څانګه جوړوي. د هماغې پېړۍ په وروستيو او دشلمې پېړۍ په لومړيو کې چې د نوې ژبپوهنې استازيو، لکه فرانسي دارمستېټر، الماني ګايګر او ناروېژي استاد مورګنستيرن يې په ساينټيفيکو(فونولوجيکو او اېټېمولوجيکو) فارمولونو ايرانيوالی پر زباد هم ورسا وه، بيا يې د((ايران)) پر ټکي سرنه خلاصېده، څکه پر نوموړي کال زموږ تربورانو دخپل هېواد نوم له ((پارس)) څخه پر((ايران)) راړولی وو. هغه هم د نازي غورځنګ په پلپونی په دې موخه چې د عراق او توركيې له پولو تر مارګلې ((تکسيلا)) پورې دګردې آرياني ژبې سيمې ټولواکمنی لپاره لاره هواره کاندې. سره له دې چې د (۱۹۷۵)ز کال په وروستي نړيوال پښتو سېمينار کې د استاد مورګنستيرن په مشرۍ ټولو آريانپوهانو او پښتو پوهانو پرې ومنله چې ((ايران)) د ((اريان)) اوښتې بڼه ده او که بياهم ورسره نابلندې پاتې شول او حساسيت ورسره لري، افغاني ليکوال او پوهان يې پرځای هماغه پخو انی آره بڼه بيرته رادودولای شي، خو دوديزو ژبپوهانو له خپلې هېنډې وانه وښتل او تراوسه يې يونيم ژوندی پاتې پلپونی ځوان پښت ته هماغه زړې اوتې بوتې انګروزوي چې ته يې هم ورته پوښتنې ته اړېستلې!

د نړۍ ګردې شپږزره ژبې سره همزولې دي او ګردې د خپلو خپلو ټولنو ورځنۍ اړتياوې پر ځای کوي. تر منځ يې يوازېنی توپير له فرهنګي پلوه دی. پښتانه د دې پرځای چې دغې سيالۍ ته پام راواړوي او پکې د پوهې او فرهنګ د غوړېدا او د دې کار لپاره يې د يوې- يوازېنۍ- کره ليکنۍ بڼې سمبالتيا ته څير شي، پر هماغو زړو پاتشونو يې شخوند وهي او همدا وايي: ((پښتو چې دومره زړه ژبه ده، ولې ورته له پارسۍ سره يو برابر حق نه ورکول کېږي؟)). يو لاڅه مهال مخکې ليکلي ول (( داچې وايي، پښتو شپږ زرکلنه ژبه ده، نو ولې...))، که زه د همدغې جهل و جنګ ځپلې ژبې د علمي او فرهنګي له سرڅښې وزګار وای، يوازېنی ځواب به مې ورته داوای: (( ورشه، له هماغو و پوښته چې دا خبره يې په غوږ کې درڅڅولې ده! )) اودادی متې ته راباندې زورور شوې او غبرګون ته دې اړېستم!

له پښتو او پښتون سره د هېرودت پکت او پکتويس يا هندي پکتها... هم همداسې درواخله .

)د دغو ناسمو انګېرنو پوره سپيناوی :پښتو اوپښتانه د ژبپوهنې په رڼاکې له ساکي مخينې سره- ۱۰۷تر ۱۲۵مخ( .

مسعود: هغه مهال چې د دولت له خوا زموږ په هېواد کې د پښتو ژبې د پالنې اودودونې غورځنګ را پیل شو، ستاسې پراندکوموپوهانواولیکوالودځرنګوالي له څومره بیز او څرنګیز پلوه پښتو ژبې او ادب ته ځانګړې پاملرنه کړې ده؟

زيار : هسې خو تېره پېړۍ په دولتي چوکاټ کې د پښتو پالنې نوی پېر له اماني او بيا په نادري پېر کې له(( پښتومرکې)) را پیل شوی وو، خو د یوه پرلغښتي سراسري غورځنګ بڼه ورته پر(۱۹۳۶)ز کال ورکړشوه. د دغه غورځنګ انګېزه او موخه، لکه په سرکې چې ورته نغوته وشوه، زموږ لویدیز ګاونډي شاهي نظام د هېټلري او موسولوني فاشېستي ژبتوکمیز پیورېزم او په تېره د نازیانو د((آریانیوالي)) بې سروبوله داوو او انګروزو تر اغېز لاندې پر (۱۹۳۵)ز. کال د خپل هېواد زوړ تاریخي نوم((پارس)) پر ((ایران)) راواړاوه، نو افغان شاهي نظام متې یو کال پس پر ځان وخوړه چې ولې یې په پټو سترګو پوښتنپانه(استعلام) ورلاسلیک کړې دی!

ځکه د محمد ګل مومند په مشرۍ یو څو روښاندادو لیکوالو افغان شاهي دربار د ګاونډي تربره نظام دسیسې ته ورځیرکړ چې غواړې د((ایران)) تر نامه لاندې له پارس خلیجه تر مار ګلې (تکسیلا) ټول تاریخي ((ایران زمین)) په خپله اوېجه(قلمرو) کې راګډ کاندي. مومند بابا هغه شپې ورځې د لوی کندهار پوځي او ملکي پازوال(تنظیمه رئیس) وو. نو دمیوند تاریخي هدیرې له رغاونې او پښتو ډبر لیک(ځلي) یې راپیل کړه. ((طلوع افغان)) یې پښتو ته راواړاوه او تاند زلمی مرستیال (حبیبي) یې چلوونکی(مدیر) وروټاکه او ننګرهاری ((خادم)) یې ورسره مرستیال. بیایې چې د استاد حبیبي نوښتګرانه هلو ځلو تر سخت اغېز لاندې راوست، له کابله یې ورته د هغه مهال د لوړترینې(دېرش زره افغاني) جایزې او یو څه ځمکې هوکړه تر لاسه کړه. همداسې یې د نورو استعدادونو په لټه کې شو. داسې بربښېده چې له کندهاره کابل ته((مرکه د پښتو)) په نوي نامه((پښتو ټولنه)) را لېږدونه هم د ستر مومند په نوښت شوي وي. ځکه نادر خان د کابل د نیونې په پاداش کې نه یوازې((لمراعلی نښان)) ور لورولی وو، بلکې خپل شېرم ورور یې هم نومولی وو، نو ظاهر، داود او نعیم دواړو ورونو ورته کاکا وایه. نو وزیر صاحب یې له دغه ویسا(اعتبار) څخه د پښتو ودې وش، پراختیا او پرمختیا لپاره ګټه اخیسته. د ژوندو ژواک په وروستیو ورځو شپو کې یې له هیبکه ظاهر خان ته زنګ را وواهه او ده چې ورته وویل، ((کاکا خیریت است در این نصف شو...؟)) او هغه له لوښې سره سم په تونده پښتو ګړدود خبره ورپرې کړه: (( بیامو لکه چې ځان پر ایران وپلوره او پاړسو مو ورقانوني کړه!)). پاچا چې ورته وویل: د اساسي قانون د جوړونې په کومېټه کې له

نورو سره يو برابر پښتانه ول، لکه سيد شمس الدين مجروح، موسی شفيق او دوکتور صمد حامد، هغه راغبرگه کړه، دوی چا پښتانه کړل، يو عرب، بل کشميری او دابل ستاسې خپل بې پښتو محمد زی! ))

په هر ډول، هغه لوی انسان هغه غورځنگ تر دې بريده راورساوه چې لومړی ځل پښتنو ته په مورنۍ ژبه لړ تر لږه د لومړنيو، منځنيو او څه ناڅه لوړو زده کړو رښته(حق) ترلاسه کړ، د اړوندو سيمو دوتر دېوان يې هم پښتو کړي ول چې تراوسه يې يوازې په ننگرهار کي نښه نښانه هومره راپاتې ده. د پښتني- افغاني ملي وکر(هويت) د نومېرنې(تشخيص) په لړ کې يې

له پاميره تر ميمنې د پښتنو د آر ټاټوبې بيرته افغاني کول او داسې نورې کارنامې يې په هره توگه د تاريخ په زرينو پاڼو کې د تل لپاره خوندي پاتې دي، خو د ژبنيو هاندوهڅو پايله او بېبره يې پر ژوندونې وليده او هغه دا چې د استاد حبيبي راوروسته يې له جوماتونو څخه د نورو گڼو راچاڼلواستعدادونو په لړکې نور ځلور ((ستوري)) او ستورگي د ژبې او ادب پر هسک راځلولي ول .

دا د همغه غورځنگ لوی او واړه ستوري ول چې د زاړه دوديز و نوي اکاډېميک پښتني پښت ترمنځ يې يو تاريخي پول رامنځته کړ .

مسعود: پر تاسې د يو شمير ليکوالو له خوا دا تور هم لگول کيږي چې دوديز پوهان او بيا د پينځگونو ستوريو پر وړاندې يو سخت انتقادي دريځ لرئ، که په دې تړاو راته څه وواياست!

زيار: پر ما باندې د نورو تورونو او پيغورونو په لړ کې دا تور هم بې سروبوله دی دا چې زه له علامه (حبيبي) تر استاد بينوا، استاد رښتين، استادالفت، مولانا خادم... اواستاد (رشاد) پورې د پخوانو استادانو څېړنې او څېړندودونه، هغه هم د ((ژبپوهنې)) په تړاو نه منم او د زاړه((يوناني)) طب په څېرېي له دود و موده وتلی بولم، نو دا يې خدای مکړه، د شخصيتونو سپکاوی دی!

هو، لکه څنگه چې سوکرات،اپلاتون، ارستو... علمي پاتوړو ته تولنه علمي نړۍ له تېرمهال پلوه درناوی لري، ما هم له تاريخي پلوه د خپلو پخوانو پوهانو او استادانو او ورسره ورسره ليکنو څېړنو ته تر بل هرچا ډېر درناوی درلودلی، په تېره استاد حبيبي اوليکنو هستونواو په ځانگړي ډول يې تاريخي او متني اثارو ته. خو دامې اوس نه، بلکې هغوی ته په غونډو سيمينارونو کې هم مخامخ په زغرد ويلي چې تاسې له نشته راپيل کړې وه او په دې توگه مو زموږ نوي اکاډېميک پښت ته لاره هواره کړې او دا د زمانې غوښتنه ده چې نوې خبرې به د زړو ځايناستي کيږي. ما تر تاسې وروسته له وسمهالو

لویدیزو استادانو سره د ادبپوهنې، تو کمپوهنې او نورو څېرمه ټولنيزو څانگو خرانگو ترځنگ نوې ژ بپوهنه او بيا هندواروپايي او هندوآرياني فېلالوجي د آرو څانگو په توگه لوستې او له لوړترين لاسوند سره راستون شوی يم. نو په دې به مې نه گرموئ چې خپل لوستليکي(تکسبوکونه) ستاسې دهغو ځايناستي کوم!

په پخوانيو استادانو کې يوازې ترگردو مخکښ استاد حبيبي ددې منښتې مېرانه درلوده چې ووايي: موږ تردې ځايه راورسوله، نور تاسې نوی اکادېميک پښت پوه شه چې څنگه په نويو علومو فنونوخپله ژبه، ادب، تاريخ او فرهنگ د جهاني سيالۍ جوگه کوئ!

په دې توگه استاد حبيبي د نورو په توپير له ما او نور نوي اکادېميک پښت سره دومره اړپېچ نه لاره او بيا يې دا پراخنظري چې د سمتپالو پرخلاف يې د يوازېنې سيمييز گړدود پرځای ان د لسمو لمريزو کلو راهيسې د ټولو گړدودو د يوه معياري غورچاڼ ټينگ پلوي وو او په همدې موخه يې د اړوندو غونډو مشري کوله .

د اطلاعاتو او کولتور د سلاکار په توگه يې رانه پر (۱۳۵۳)ل. کال وغوښتل چې تازه بشپړه کړې ((وييپوهنه)) د کالنۍ جايزې لپاره وروړم. د ژوند په وروستيو ورځو کې تر بل هر وخته زيات پوښتنې ته ورتلم او بهرته داستونې اودرملنې لپاره مې له وزير ((مجيد سربلند)) سره تنې وشلولې. خو ماچې تر څو دوکتور نجيب الهوور واسطه کاوه، گونديانو ((پوهنتون =دانشگاه)) پر سر ناڅاپه د مېلمه استاد په پلمه دېموکرا تيک المان ته راشړونی (تبعيد) کړم او مياشت دوې وروسته مې د اروابناد استاد له ((ويرنې)) سره گوندي استعفا پاڼه هم ور ولېږله !

له استاد بېنوا سره زما راشه درشه هم تر پايه ټينگه او ترينگه پاتې وه. د انقلاب په بوږنوړي زورواکي پير کې چې زه تر بندي کېدو پورې څو مياشتنې د پښتو څېړنو نړيوال مرکز سروال وم، د يوه وياړلي سلاکار په توگه مې تر وسې وسې نازاوه او په خپل سرکاري گاډي کې مې تر((بربڼه)) رساوه. د ليدو کتو وروستی وياړ يې هغه مهال را په برخه شو چې دانقلاب له نوي پېرسره په ليبيا کې سفير شوی وو او په مسکو کې تر درملنې وروسته کابل ته راغلی وو .

استاد الفت هم چې له يوې لسيزې راهيسې کورناستی وو، د هغو دوو استادانو غوندې له نوي پښت سره کوم اړپېچ نه لاره او دايي د پښتو ټولنې په مشرتابه پېرکې پر زباد رسولې وه؛ تر دې چې ما ځنې د ژبپوهنې په نويو نومونو کې سلاهم اخېستله. خو دوه نور ننگرهاي ستوري، مولانا خادم او په تېره استاد رښتين راسره تر پايه مرور ول. همدا به يې ويل چې پښويه(گرامر)، وييپوهنه(اشتقاقونه او ترکيبونه). .. يې د کاني

کرښې دي او ما هغه د نورو استادانو ترلوستلیکیو له مخه د پوهنځي له نصابه ورکښلي او خپل دا مې ورځایناستي کړي ول !

مایې بیا هم پوره درناوی کاوه او هغه مهال چې په خپل کور، ننگرهارکي گوزنوهلی پروت وو، د لیکوالو له انجمنه مې د((ممتاز فرهنگي)) ستاینوم له مادي امتیاز سره ور په برخه کړ او د پېښور د کډوالی په شپو ورځو کې یې هم پوښتنې ته ور تلم .

مسعود: لکه څنگه چې ما له نورو لیکوالو اورېدلي او څه ناڅه راته ستا له ((اندوژوند)) څخه پته لگېدلې، تاسې د ژبپوهنې، ادبپوهنې، توکمپوهنې، تاریخ او داسې بېلابېلو اثارو او زرگونو مقالو په لیکنه او خپرونه تر علامه استاد حبیبي راوروسته له ځومره بیز، اوبیا ځرنگیز پلوه د رېکاډ ښتن یاست، نو که په دې تړاو لنډ څه وویاست!

زیار: د رېکارډ خبره ړومبی ځل ځوان هڅاند لیکوال اسماعېل یون زما په نامه کښلي نښیر(۱۹۹۳م) کې د خپلې شمېرنې له مخې کړې وه او په دویم چاپ(۲۰۰۹) کې یې د نویو چاپ شویو کتابو له یادونې سره بیا راغبرگه کړې ده. ددې لپاره چې په څو ناستې سیالان راپسې راوانځلي، وار له مخه دا ځرگنداوی اړین بولم چې زما له څه له پاڅه ۱۳۰ نښیرونو څخه تر اوسه متې ځلوېښت دا له چاپه راوتلي کتابونو او پاتي هماغه ۱۰۴پښتو گړدودي اثار دي چې د(( افغانستان ژبپوهنې اتلس)) د یونسکو پروژې په لړ کې مې کښلي او د نورو برخوالو په توپیر مې د سویس له شپږکلنې زده کړېزې مېشتیاسره په ځانگپوهیز بهیر (پراسېس) ونډه هم اخېستې ده. له بده مرغه د اړوند اتلس په ترڅ کې د نورو ملگرو هغو تر ځنگ زما تیار ځېړلي او چاپ ته چمتو دا هم د برن پوهنتون په خوندیځ کې همداسې بې برخلیکه پراته دي او منډو ترنډو مې تر اوسه کومه گټه نه ده کړې!

مسعود: تر ماپورې ډېرو پښتو مینو ته جوته ده چې تاسې د گڼو پښتو گړدودونو او بیا نوې ژبپوهنې په رڼا کې پر پوهنتوني او اکاډېمیک کچ د یو لړ بنسټیزو لوستلیکیو یا درسي کتابونو(پښتوپښوییې، وییپوهنې، شعرپوهنې، آرپوهنې، لیکلارې، لیکلاربنود، پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼاکې. ..) پر کښنه او ښوونه( تدریس) او بیا زرگونو رسنیزو لیکنو ځېړنو سربېره، د((یوې پښتو- کره پښتو)) غورځنگ هم پرمخ بیولی او اغېزې یې له هېچا پټې نه دي، نوکه یوه لنډه رڼا پرې واچوئ او بیا یې تر اوسه مخته پرتې ستونزې راته پر گوته کړئ!

زیار: دا پر زباد رسېدلې چې تر سیاسي غورځنگه پوهنیزاو فرهنگ دې ډېرې ستونزې او کړاوونه لري. ځکه دلته د نوي او زاړه تر منځ د شخړې او ټکر خبره ده چې تر هرڅه زیاتې رواني ریښې لري. د افغاني، په تېره پښتني وروسته پاتې دودیزې او

ټبريزي ټولنې ډېرى نالوستي خو بې له هغې له ليکنۍ ژبې سره څه اړاو تړاو نه لري، خو هماغه کم سلنه لوستي،زده کړه وال ليکوال او پوهان يې له ورته ټبرنيز او سيمييز اندو واند (ذهنيت) سره په اسانه او يوواريزه توګه د ژوند و ژواک د نورو ډګرونو غوندې ژبني- ګړودودي يووالی ته نه چمتو کېږي. او بيا د هغه چې يو ټولواکمني ښاخ و غرور ورته له نيکونو ورپاتې دی، د خپلو مشرانو کړې او منلې پرېکړې هم ردوي. هغوی د ياد شوي غورځنګ په هماغو لومړيو کې د نورو سيمو له استازيو سره دې پرېکړې ته رسېدلي ول چې

د يوازېني کندهاري ګړدود پرځای د ټولو غورو ګړدودونو يو غورچاڼ بايد د يوې کره پښتو بنسټ وټاکي. له همدې لامله يې په دېرشمو لمريزو او راوروسته کلونو کې تردرو سراسري غونډو او پرېکړو راوروسته يې نوره هم پسې پاينه موندلې او تر ټولو وروستنۍ بېلګه يې پر() کال په کابل پوهنتون کې د علامه استاد حبيبي په مشرۍ جوړه شوې غونډه وه.. تر څو وار نويو ژبپوهانو ته راورسېد. پر هماغه کال چې تر څلورکلنو ګړدودي څېړنو وروسته مې په برن پوهنتون کې خپلې زده کړې نوې پيل کړې وې چې استاد تړي له امريکا څخه د ژبپوهنې له ماستري لاسوند سره((نوې ژبپونه او ژبني مسايل)) رساله د پښتو ټولنې په چوکاټ کې له چاپه را وکښله. په هغه کې يې د زړې دوديزې ژبپوهنې او د ټولنې له رامنځته کېدو راهيسې شوې هڅې او پرېکړې ناسمې او ناپوهنيزې ښوولې، خو د هماغه هوکې کړی((غورچاڼ)) يې نورهم ښه ترا ور ځيرلی وو. هغه هم په دې علمي دليل چې د کندهاري او ننګرهاري ګړدودو په ګډون هېڅ يو پښتو ګړدود کوم((اقتصادي، اجتماعي او سياسي سيادت)) نه لري چې د يوازينۍ((معياري لهجې)) په توګه پر نورو پښتنو و منل شي. د استاد رحيم الهام او همداراز قلندر مومند بيا په دې((سوسيو لنګويستيکي)) لاسوند دا ((پلرنۍ نصيحت)) را مخته کاوه:

((تر څو چې پښتني ټولنه له اوسني قبيلوي او بيا فيوډالي پړاوه، پانګوالي هغه ته نه وې رسېدلې، د معياري پښتو د ربړې هواری ناشونی دی! ))

زما دلايل چې ان څوکاله وړاندې د بي بي سي پښتوخپرونې په ګډه مرکه کې بې کچکوله قلندرته هم وړاندې کړل داسې لنډيز مومي ((اوس سم له لاسه موږ دا له ټبرنۍ او فيوډالي پړاوه را وتلي او پرمختللي نړيوالې علمي- فرهنګي سيالۍ ته مو ملا تړلې ده، په کوم ګړدود لويديزوالو ولې په هغه پړاو درې پېړۍ پخوا يوه کره ليکنۍ. . اياموږ بيرته پرشا ولاړ شو او کتاب، قلم، ښوونځی... د بنسټپالو په څېر وسوځوو))، اوياد بېلابېلو سيمو، کليو، باندو او خپلونو، ټبرونو لپاره بېلابېل ښوونيز يا درسي کتابونه، ښوويې(ګرامرونه)، ليکدودونه، ليکلارې، سيندونه ( قاموسونه)، چاپي او برېښنايي رسنۍ... رامنځته کړو؟

مسعود: له څو کلو ، په تېره د ((پښتو لیکلاربنود)) له خپرېدا راهیسې په دې کال دوه کې ځینې لیکوال پر تاسې دا نیوکه کوي چې د(( یوې- کره- لیکنی پښتو)) په تړاو مو سوېل لویدیزه ګړدودي ډله خورا لړه په پام کې نیولې او زیات زور مو پر درونورو ډلو، په بله وینا (منځنی، سوېل ختیزه او شمال ختیزه پښتو ) اچولی دی، ایا دا نیوکه یې څومره پر ځای ده ؟

زیار: د یوې ژبې علمي ښوونه (ګرامر) او بیا یې اړونده ټاکلې کره(معیاري)بڼه هغه اساسي قانون ته ورته دی چې د ولس د امرلو(منتخبو) استازیو له خوارامنځته کېږي او سرکاریې د پلې کولو پازه (مسوولیت) لري. ما څه د اتلس په تړاو او څه په ځانګړي نوښت له آمو تر مارګلی، په بله وینا، له اسلام کلا تر اسلام اباد او بیا له بولانه تر واخانه سل یو نیم سل پښتو ګړدودونه راټول کړي او د اروپایي پښتوپوهانو تر لاربښوونې لاندې څېړلي، شنلي او پر څلور ډلو ویشلي، او هله مې د یوه ژبپوهنیز پروسیجر له مخې ځنې رغولی غورچاڼ د ((یوې پښتو- کره پښتو)) په نامه په لیکلاربنود کې رانغښتی دی. په دې ډول ، دالاربنود د هرچا او هرې سیمې او ټبر استازندویه دی، نو هېڅ یوګړی (منفرد) وګړی ددې داوې او نیوکې رښته (حق) نه لري چې ووايي، دا زما یا سیمې او ټبر ځلندویه او استازندویه پښتو نه ده ، نه پکې زده کړه کوم او نه لیکنه لوست او لیکوالي !

مسعود: له دوه درو کلو راهیسې د(ی) ګانو شخړه راروانه ده، که پر دغه لیکدودي ربړه یوڅه رڼا واچوئ!

زیار: ما د ښوونې درېیم چاپ (۲۰۰۵ل) په سریزه، لاربښود او ګڼو لیکنو، ویناووکې پوره روښانه کړې چې دا لیکدودي ناغېړي یا تېروتنه نه ، بلکې دګړدودي توپیر زېږنده ده او دشخړې پرځای یو ځانګپوهیز او ګډ پوهاوی رامنځته کول په کار دي .

دلمریزې پینځمې لومړی یا دویم کال وو چې ما د اړوندي سیمې شاګردانو څخه د یو لړ پوښتنو په ترڅ کې د دې مشورې سر پیداکړ. داسې چې د نورو ګردو پر خلاف یې په هر خجن خپلواک(واوېلې) یسې هر یو پربل اړاوه، په دې وروسته ډول :

زور پر زورکي( لکه مینه او ښځه)، اوږده- ي پر لنډه-ي،لکه (ښځې- ښځي، ښوونکې- ښو ونکي)، زورواله- ی پر زورکیواله(ی،ئ)، لکه (پلی- پلئ، ښوونکی – ښوونکئ )، اوږد و

، لکه ( تودوخه – تودو (u)پر لنډ – و (o)

خه، مېږوښه – مېږو u

بنه u(

سویل لویدځوال په دغه لړ کې اوږد خجن واوېل هم پر لنډ اړوي، لکه (توری- توری، زېرې- زيږي، چېرې- چيري)...؛ لا په زړه پورې يې بيا دا چې يووستوي ناخجن توکې چې پوهاند تړي (۱۹۷۸)ز. پرې د

((clitics))

تر سرلیک لاندې دوکتورا تېزس کښلی دی، هم د درو نورو ډلو پر وړاندې له ورته خپلواک ونج(واوېلي بدلون) سره ادا کوي :

، u،خوo-خو ،u نوo- اړيکوييکي(ربط ادات)، لکه (چې- چي، نو

،-wu وو wo ځکه- ځکه،)؛ مرستيالکړ، لکه : (دی- دئ، ده- ده، وو

، u وه- وه، وم- وم)؛ ضميري يا پرونومينال، لکه (مې- مي، مو- مو

،يې- يي )؛ وستربلونه، لکه (ته- ته، څخه- څخه، سره- سره، وروسته- وروسته، لاندې- لاندي، باندې- باندي، پسې- پسي،کې- کي، پورې- پوري، ځنې- ځني...)؛ بېلښتي او تړښتي (اشتقاقي او ترکيبي) اداتي ضميرونه هم همداسې دروا خله، لکه (راته- درته- ورته، راکې- راکي، درکې- درکي، ورکې- ورکي، پکې- پکي. ..)؛ پوښتوييکي او پوښتنومځري، لکه (ولې- ولي، چېرې- چيري،کوم- کوم، کله- کله، څنګه- څنګه...)؛ کړولونه يا قيدونه، لکه (اوس- اوس، هلته- هلته، دننه- دننه، د باندې- دباندي، هورې- هوري ). ...

ما داسې انګېرله چې دد سويل لويديزې پښتو دغه خجيزه ځانګړتيا زما برسېرونه ده، ځکه نه يې هربرت پنزل په خپل اړوند ګرامر(۱۹۵۵) کې يادونه کړې وه او نه يرژي بيچکا په پښتو خجپوهنه(۱۹۶۹) کې((دغه دواړه اثره استاد الهام په (۱۳۴۰) او(۱۳۶۸ل. )کلو کې را پښتو کړي دي)). خو (۳۶)کاله پس چې استاد مکنزي راته پر (۱۹۹۸) کال په خپل کور، وېلس کې د خپلې وروستنی پښتو رسالې يوه کاپي راکړه او په دې تړاو يې د اخښنګ(التباس) لپا ره د(ته اوسې) پر وړاندې د سوېل لويديزګړدود (ته اوسي) بېلګه وړاندې کړې وه، نو مايې چې درستې خجپوهنې (اکسنتولوجی) ته پام راواړاوه، هک پک پاتې شو، ځکه دمشر استاد مورګن ستيرن د تاريخي پښتو پښويي(ګرامر)په ناچاپه لاسکښنه کې يې دغه ځانګړتيا

تر سترګو شوې نه وه .

له ښه مرغه همدا يوه نيمه مياشت له مخه (۲۰۱۱-۱۰-۲۴) مې د استاد ښېنوا هغه ليکنه له ((وريت پښتون)) فېسبوکه را ثبت کړه چې په لمريزه دېرشمه ليکلې((ادبي فنون)) رساله کې يې د(ياګانو) د ډولونو او ليکښو په تړاو ورته اخښنګ(التباس) بيلګې ته ګوته نيولې ده، درسته ليکنه يې په لاندې ډول ده : ورته

((په پښتو کې د "ی" ليکل دا شکلونه لري :

الف : معروفه (ی)- راوروسته يې (ي) ښه ومنل شوه(زيار)

لکه خپلوی، وروړګلوی ، دا "ی" بې له کومه نښې ليکله کيږي

ب: مجهوله (ې)

ددې توری شکل لومړی چپه (يا) وه چې اوږده لمن(يې) درلوده مګر څنګه چې دا شکل که دکلمې په منځ کې راشي اشکالات پيښوي نو (ې) يعني معروفه يا ته دوه ټکي سر به سر ورکړه شوه چې په منځ او اخر کې يو شان وي او دا توری اوږد او کشاله وايه کيږی لکه :

نارې ، غلبلې ، مېلمه مېرمنه يا نور....

په ليکلو کې د معروفي او مجهولي يا فرق په کار دي که نه وي مانا غلطيږي بيلګه :

خاندي (معروفه ی) او خاندې (مجهوله ې) مانا( يې) فرق لري ، يو غايب او بل مخاطب فعل دی ، يا لکه مستی(مستي) او مستې ، مينه او مېنه. ..

ج : تانيثي( ۍ)

دا ۍ په اخير کې يوه کوچنۍ لکۍ لري چې د نورو ياګانو سره يې فرق وشي لکه : چوکۍ، خولۍ ، ډوډۍ ، نجلۍ او نور...

د : ثقيله (ئ)

ثقيله (ئ) هم د تانيثي يا په شان ثقيله ادا کيږي مګر په ليکلو کې يې شکل فرق کوي يعني په اخيريا پر سر همزه لري بيلګه : راغلئ،ځئ چې دا اکثرا د جمع مخاطب په اخيرکې راځي))

په ډير درنښت او ادبي مينه : انجنيرعبدالقادر مسعود

له تاسوګران او مشر ورور استادزيار څخه ډيره ډيره مننه چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل .

له تاسې هم منندوی یم چې دومره زړه غټاوی مو را په برخه کړ!

ګرانوفرهنګپالو اود ادب مینانو!

زه غواړم چې له پوهاند استاد زیارصاحب سره په راتلونکي کې هم نوري مرکې ولرم. که تاسو دپښتو ادب، فرهنګ او شعر په تړاوابښتنې پوښتنې لرئ ، کولای شی د ما د ایمیل په پټه یې راولیږی.